# د اَودَس ثواب



پښتو

پیشکش:
مجلس المدينة العلمية (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامى سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ اِنْ شَآءَالله څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج ص. دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

د رسالے نوم: د اَودَس ثواب

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچئ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنڈِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

www.dawateislami.net

# د اَودَس ثواب

د دعوتِ اسلامي شُعبه اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ دا رِساله ”وضو کا ثواب“ په اردو ژبه کښې ليکلې ده،

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب دَ ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چې مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

# مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د اَودَس ثواب

**دعائے عطّار:** يا الله پاکه! څوك چي دا رساله ''د اودس ثواب'' اولولي د هغه اعمال نامه د ګناهونو نه پاکه کړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته زيات نزدے هغه وي، چا چې په ما باندې زيات دُرُود شريف وئيلے وي.

(ترمِذی، ج ۲ ص۲۷ حديث ۴۸۴، دار الفكر بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حوضِ کوثر جامونه

د الله پاک آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (يو ځل) د اَدِيرے طرف ته تشريف راوړلو نو اوئې فرمائيل: په تاسو دِ سلام وي اے د مُؤمِن قوم د کور کسانو! که الله پاک اوغوښتله نو مونږه هُم تاسو سره ملاويدو والا يُو، زه خوښووم چې مونږه خپل وروڼړه ليدلے وے. صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا مونږه ستاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وروڼړه نه يُو؟ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: تاسو زما صحابه ئې او زمونږه وروڼړه هغه

خلق دي کوم چې تر اوسه پورې نه دي پيدا شوي. صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو، کوم چې تر اوسه پورې پيدا شوي نه دي، تاسو صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغوئي څنګه پيژنئ؟ رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: ستاسو څه خيال دے چې که يو کس سره د تور رنګ آس وي او د هغه د تورو اُوګو د مينځه يوه ځليدونکي نښه وي نو آيا هغه به خپل آس نه شي پيژندلے؟ صحابه عرض اوکړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ولې نه، خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: چې کله به هغوئي زما حوض ته راشي نو د هغه خلقو اندامونه به د اوداسه په وجه ځليږي او زه به په حوضِ کَوثَر باندې د هغوئي د استقبال د پاره موجود يم. (مُسلِم ص ١٢٣ حديث ٥٨٤، دار الكتاب العربي بيروت)

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! بے شکه هر عقلمند په دې خبره ښه پوهيږي چې صفائي سُترائي د انسان په وقار [عِزَّت] کښې اِضافه کوي او ګندګي د انسان عِزَّت او عَظَمت کموي. دِينِ اسلام چې انسان د کُفر او شِرک د نجاستونو نه پاک کړے دے او عِزَّت او لوئي والے ئې ورکړے دے نو ورسره ورسره ئې د ظاهري صفائي سُترائي درس هُم ورکړے دے. بهرحال که د بدن پاکيزګي وي او که د لِباس صفائي وي، د هر څيز د صفا ساتلو په دِينِ اسلام کښې تعليم و ترغيب ورکړے شوے دے. الله پاک دويمه سيپاره سُوْرَةُ الْبَقَرَه آيت نمبر 222 کښې اِرشاد فرمائي:

اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ التَّوَّابِیۡنَ وَ یُحِبُّ الۡمُتَطَهِّرِیۡنَ ﴿۲۲۲﴾ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : بے شکه الله خوښوي، ډیره توبه کوونکي او خوښوي سُتره خلق.

هُم دغسې په ډیرو حدیثونو کښې هُم د صفائي او سُترائي اَهَمِّیَّت بیان شوے دے. په دې باره کښې درې فرامِینِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولوَلئ:

﴿۱﴾ حُضُور نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: اَلطُّهُوۡرُ نِصۡفُ الۡاِیۡمَانِ یعني صفائي نِیم اِیمان دے. (تِرمِذی، ج۵ ص۳۰۸ حدیث۳۵۳۰)

﴿۲﴾ بے شکه اسلام صفا سُتره (دِین) دے نو تاسو هُم نَظافَت (یعني صفائي سُترائي) حاصلوئ ځکه چې جَنَّت ته به صرف صفا سُتره اوسیدونکے داخلیږي. (کنزُ العُمَّال جُزء۹، ج۵، ص ۳۰۸، حدیث ۲۵۹۹۶، دار الکتب العلمیة بیروت)

﴿۳﴾ کوم خیز چې تاسو ته حاصل شي په هغې نَظافَت (یعني صفائي سُترائي) حاصلوئ، الله پاک د اِسلام بُنیاد په صفائي باندې کیښودے دے او جَنَّت ته به صرف صفا سُتره اوسیدونکي داخلیږي. (جَمعُ الۡجَوامِع، ج۴، ص۱۱۵ حدیث ۱۰۶۲۴، دار الکتب العلمیة بیروت)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږ ته پکار دي چې ځان د هر قِسمه ګندګئ او خِیرو نه د صفا سُتره ساتلو کوشش کوو، صفا سُتره اوسیدلو سره انسان کافي حده پورې د جِسماني بیمارو نه محفوظه اوسیدے شي او ډاکټرانو له د ډیر تللو نه هُم بچ پاتې کیدے شي. ځان صفا سُتره ساتلو او د

خپل صحت روغ ساتلو د پاره په اَوداسه کښې اوسيدل بےشکه يو **بهترين عمل** دے.

**اللّٰه** پاک په قرآنِ مجيد کښې په اَوداسه کښې د وينځلو والا يو څو اندامونو خصوصيت سره بيان فرمائيلے دے، چنانچه شپږمه سيپاره سُوْرَةُ الْمائده آيت نمبر 6 کښې اِرشاد فرمائي:

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَ امْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَ اَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ؕ وَ اِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ؕ

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ايمان والؤ چې کله په لمانځه اودريدل غوارئ نو خپل مخونه اُووِوينځئ او څنګلو پورې لاسونه، او د سرونو مَسَح اوکړئ او د ګيټو [پړکو] پورې ښپې اُووِينځئ.

## په اَوداسه کښې د اوسيدلو بَرَکتونه

### هر وخت په اَوداسه کښې اوسيدل د شهادت د مرتبے حاصلولو ذريعه ده:

حُضُور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اُوفرمائيل: څويه که ته هميشه په اوداسه کښې د اوسيدلو استطاعت لرې نو هُم داسې کوه ځکه چې مَلَكُ الْمَوْت (يعنی رُوح قبض کوونکي فرښته) چې د کوم بنده رُوح د اوداسه په حالت کښې قبض کړي د هغه د پاره شهادت ليکلے کيږي. (کنزُ العُمّال جزء ۹، ج ۵، ص ۱۳۰ حديث ۲۶۰۶۱)

اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ لیکي: همیشه په اوداسه کښېږ اوسیدل مُسْتَحَب دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج۱، ص۷۰۲ رضا فاؤنڈیشن لاهور)

په یو بل مُقام کښې فرمائي: همیشه په اوداسه کښې اوسیدل د اسلام سُنَّت دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج۱، ص۷۰۲) بعضې عارِفینو فرمائیلي دي: څوک چې همیشه په اوداسه کښې اوسیږي الله پاک هغه ته 7 فضیلتونه عطا کوي: (1) فرښتے د هغه په صُحبت کښې رَغبَت کوي، (2) قلم مسلسل د هغه نیکئ لیکي (3) د هغه اندامونه تَسْبِیْح وائي، (4) د هغه نه تکبیرِ اُولٰی نه ځي (5) چې کله اُوده شي نو الله پاک څه فرښتے را اُولیږي چې د جِن و اِنس (یعني انسانانو او پیریانو) د شر نه د هغه حفاظت کوي، (6) ځنکدن به پرې آسان وي، (7) تر څو پورې چې په اَوداسه کښې وي د الله پاک په امان کښې اوسي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج۱، ص۷۰۲)

## د زړه صفائي

حکیم الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ فرمائي: بعضې صُوفیاء فرمائي: په پاکو جامو کښې اوسیدل، په پاکه بستره خملاستل، همیشه اُوداسه کښې اوسیدل د زړه د صفائي ذریعه ده. (مِراٰۃُ المناجیح ج۱ ص۲۶۸ ضیاء القرآن پبلي کیشنز لاهور)

## د اِحساسِ کمترئ یو علاج

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** هر وخت په اوداسه کښې د اوسیدلو عادت جوړ کړئ ځکه چې په اوداسه کښې اوسیدلو سره چې څنګه نورې

بيشميره فائدے او بَرَکتونه حاصليږي دغسې ورسره د احساسِ کمترئ نه هُم نجات حاصليږي. (حافظہ کیسے مضبوط ہو؟ص۹۵تا۹۶)

شيخِ طريقت اميرِ اَهلِسُنَّت، بانيِ دعوتِ اسلامي **حضرت علّامه، مَولانا محمّد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه ټولو مسلمانانو ته د **"72 نيک اعمال"** **تُحفه ورکړي ده چي په هغي باندې اخلاص سره عمل کوونکے يقيناً نيک مسلمان جوړيدے شي. هغوئ** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپله دغه رِساله کښې د ورځې اکثره حِصَّه په اَوداسه کښې د اوسيدلو ترغيب ورکولو د پاره په نيک عمل نمبر 39 کښې اِرشاد فرمائي: **"آيا نن تاسو د ورځې اکثره حِصَّه په اوداسه کښې اوسيدلي ئي؟"**

روزانه د خپلو [اعمالو] د جائزه اخستلو په ذريعه د **"72 نيک اعمال"** په رساله کښې خانے ډکوئ او د هرې انګريزي مياشتي په يکم تاريخ ئې خپل ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ او هره مياشت پابندئ سره د دعوتِ اسلامي **عاشِقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو زده کولو د پاره کم از کم د درې ورځو قافِله کښې د سُنَّتو ډک سفر کوئ، د لِباس و بدن سره سره به مو کردار او اخلاق هُم صفا سُتره شي. اِنْ شَآءَاللّٰه

کرلو نیت خوب کوشش کرکے ہم اپنا عمل

مدنی انعامات پر ہر دم عمل بڑھاتے جائیں گے

کرلو نیت سنتوں کی تربیت کے واسطے
قافلوں میں ہم سفر کرتے کراتے جائیں گے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اوداسه 6 فضائل

### ﴿۱﴾ اَودَس د ګناهونو ريژيدلو ذريعه ده:

د الله پاک آخري نبي مُحَمَّد عَـرَبِـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله بنده په اَودَاسه کولو کښې خُله وِينځي نو د هغه د خُلې نه ګناهونو اُوځي، چې کله په پوزه کښې اوبه اچوي نو د پوزې ګناهونه ئې اُوځي، بيا چې کله مخ اُووِينځي نو د هغه د مخ ګناهونه اُوريژيږي تر دې چې د هغه د سترګو د بنړو د لاندې ګناهونه هُم اُوريژيږي او چې کله هغه دواړه لاسونه اُووِينځي نو د هغه د دواړو لاسونو نه ګناهونه اُوريژيږي تر دې چې د هغه د لاسونو د نوکانو د لاندې نه هُم ګناهونه اُوريژيږي، بيا چې کله هغه د خپل سر مَسْحُ کوي نو د هغه د سر ګناهونه اُوريژيږي تر دې چې د هغه د غوږونو ګناهونه هُم اُوريژيږي، بيا چې کله خپلې ښپے اُووِينځي نو د هغه د ښپو نه ګناهونه اُوريژيږي تر دې چې د ښپو د نُوکانو ګناهونه ئې هُم اُوريژيږي، بيا د هغه جُمات طرف ته تلل او لـمونځ کول د دې نه علاوه (عبادت) دے. (نسائی ص ۲۵حديث ۱۰۳ دارلکتب العلمية بيروت)

﴿۲﴾ په ورځ د قيامت به د اَودَس كوونكي تندے ځليږي:

د حُضُورِ پُـرنُـور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان نورٌ علىٰ نُور دے: چې كله به زما اُمَّت ته د قيامت په ورځ غږ كيږي نو د اَودَاسه په وجه به د هغوئي تندي او ښپې ځليږي، لِـهذا په تاسو كښې چې ځوک په خپلو ځليدلو كښې د اضافے كولو استطاعت لري هغه ته پكار دي چې په دې كښې اِضافه اوكړي. (بُخاری ج۱ ص۷۱ حديث ۱۳۶، دارلكتب العلمية بيروت)

﴿۳﴾ خپل اُمَّت سره مَحبَّت كوونكي خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: آيا زه ستاسو د داسې عمل طرف ته رَهنُمائي اونكړم چې د هغې په سبب الله پاک ګناهونه ورانوي [يعني معاف كوي] او دَرَجات اوچتوي؟ صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوكړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ولې نه، ضرور اوكړئ. اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: په مشكل وخت كښې كامِل [يعني پوره] اَودَس كول او د جُمات طرف ته كثرت سره [يعني ډير ډير] تلل او د يو لـمانځه نه پس د بل لـمانځه انتظار كول، پس هُم دا د ګناهونو نه د حفاظت د پاره قلعه ده. (مُسلِم ص ۱۲۳ حديث ۵۸۷)

﴿۴﴾ په اَودَس د پاسه اَودَس كول د لسو نيكو ګټلو ذريعه ده:

زمونږ د ګناهونو شفاعت كوونكے زمونږ خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ځوک چې د اَودَس لرلو باوجود اَودَس كوي د هغه د پاره به لس نيكئ ليكلے كيږي. (اَبو داؤد ج۱ ص۵۶ حديث ۶۲، دار حياء التراث العربي بيروت)

**﴿۵﴾ اَودَس کولو نه پس دوه رکعته کول جَنَّت واجِب کوونکے عمل دے:**

زمونږه مهربانه آقا مَکِّـي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: څوک چې په اَحسن (یعني ښه طریقه) اَودَس اوکړي او دوه رکعته د زړه په تَوجُّه سره ادا کړي نو د هغه د پاره به جَنَّت واجِب شي. (مُسلِم ص ۱۱۸ حدیث ۵۵۳)

**﴿۶﴾ په اَوداَسه کښې د اُوده کیدونکي د مُراد پوره کیدلو زیرے دے:**

د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے: څوک چې په اَودَاسه کښې د **الله** پاک په ذِکر کولو کولو کښې د خپل بِستر طرف ته راشي تر دې چې په هغه باندې خوب راخور شي نو هغه چې د شپې په کوم ساعت کښې هُم د **الله** پاک نه د دُنیا او آخرت کومه ښیګړه هُم اوغواړي، **الله** پاک به هغه ته هغه ښیګړه عطا کړي. (ترمِذِی، ج ۵ ص ۳۱۱ حدیث ۳۵۳۷)

## د اَودَاسه دُنیاوي فائدے او حِکمتونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** خوش نصیبه او سعادت مسلمانان د لمونځونو پابند وي، د لمانځه نه مخکښې اودس کول د آخرت د ثواب خزانو سره سره دُنیا کښې هُم د ډیرو فائدو حاصلولو ذریعه ده، آیا تاسو کله په دې خبره باندې غور کړے دے چې اَودَس د لاسو وینځلو نه ولې شروع کوي؟ د هغې وجه دا ده چې مونږه ټوله ورځ په خپلو لاسو قِسماقِسم کارونه کوو، چې د هغې په وجه زمونږ په لاسو پورې قِسما قِسم جراثیم اونخښلي، که خپل لاسونه صفا او سُتره اُو نه ساتلے شي نو دا جراثیم زمونږه معدے ته رسیدلے شي. په اوداسه کښې د نِیَّت او **بِسۡمِ الله** شریف لوستلو نه پس د

تِولو نه مخکښې دواړه لاسونه د ګِيټو [مړوندونو] پورې درې درې ځله وِينځلے کيږي، سُنّتو باندې د عمل کولو د نِيَّت سره سره په هغې باندې د عمل کولو په بَرَکت مونږ ته په سُنّتو باندې د عمل کولو ثواب هُم حاصليږي او د ډيرو بيمارو او جراثيمو نه حفاظت هُم کيږي.

## دَ لاسونو وِينځلو حکمتونه

(ډاکټران وائي چې) مختلف څيزونو ته د لاس لګولو په وجه په لاسونو پورې مختلف کيميائي اَجزاء او جراثيم اونخښلي، که تِوله ورځ اُو نه وينځلے شي نو لاسونه د څرمنې په دې مرَضونو کښې اخته کيدے شي، مَثَلًا ايکزِيما ﴿۱﴾ د لاسونو ګرمکې ﴿۲﴾ د څرمنې پړسيدل ﴿۳﴾ ايګزيما ﴿٤﴾ د څرمنې سخا پوستکې نيول (يو قسم جراثيم چه په څه څيز پورې د چنړياسې په شان نخښلې.) ﴿٥﴾ د څرمنې رنګ بدليدل وغيره. کله چې مونږ لاسونه وينځو نو د ګوتو د سرونو نه شُعاګانې(R) اُوځي او يوه داسې حلقه جوړوي چې د هغې په وجه زمونږ اندروني برقي نظام په حرکت کښې راځي او د يو حده پورې برقي رَو [چپه] زمونږه لاسونو ته راغونديږي، چې د هغې په وجه زمونږه لاسونو کښې ښائست پيدا کيږي او لاسونه د دې څيزونو نه کيدونکے اِنفيکشن نه محفوظه شي. (اَوِدَس او سائنس)

## د مِسواك شريف 12 بَرَکتونه

**مِسواك** شريف هُم د اوداسه يو بهترين سُنَّت دے چې د ډيرو حِکمتونو نه ډک دے او په دې کښې ډيرې دُنيوي او اُخرَوِي فائدے دي. **حضرتِ**

علّامه سَيِّد احمد طحطاوي حَنَفِـي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَیۡه نقل کړي دي چې: ❖ مِسواك شريف لازِم کړئ، د دې نه غفلت مه کوئ. دا هميشه کوئ ځکه چه په دې کښې د **الله** تعالیٰ رضا ده ❖ هميشه **مِسواك** کولو سره په روزئ کښې آساني او بَرَکت کيږي ❖ د سر درد ورسره بنه کيږي ❖ بلغم لرې کوي ❖ نظر تيزوي ❖ معده صحيح ساتي ❖ حافِظه (يعني ياد داشت) تيزوي او عقل زياتوي ❖ په نيکو کښې ورسره اضافه کيږي ❖ فرښتے پرې خوشحاليږي ❖ بوډاوالے زر نه راځي ❖ ملا مضبوطوي ❖ په ځنکدن کښې آساني راولي او کلِمۀ شهادت وريادوي. (حاشيه طحطاوي ص ۶۹ مُلَخَّصاً) (مِسواک شريف کے فضائل ص ۱۹)

اهلِ عِلم خو د مِسواك ډير فضائل او فائدے په خپلو کتابونو کښې بيان کړي دي خو جديد سائنس په مِسواك باندې تحقيق کړے دے او د دې په باره کښې ئې داسې انکشافات کړي دي چې عقل ورته حيرانيږي چنانچه

## په سائنسي اِعتبار د مِسواك طِبّي فائدے

د امريکے د يوے مشهورې کمپنئ د تحقيقاتو مطابق په مِسواك کښې د بيکټيريا [گنده جراثيمو] ختمولو صلاحيت د بلې هرې طريقے په نِسبت 20 فيصده زيات دے، ❖ د سويډن د سائنس دانانو د يو تحقيق مطابق د مِسواك ريشے بيکټيريا ته د لګيدلو نه بغير هغه براهِ راست ختموي او

غاښونه د ډېرو بیمارو نه بچ کوي، ❖ د یُو. ایس. نیشل لائبریري آف میډیسن په شائع شوي تحقیق کښې وئیلې شوي دي چې که مِسواك په صحیح طریقه اِستعمال کړے شي نو دا د غاښونو او خُلې د صفائي او د ورو د صحت بهترینه ذریعه ده، ❖ د یو تحقیق مطابق څوک چې د مِسواك عادت لري د هغوئي د ورو نه د وِینې راتللو شکایت ډېر کم وي.

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! خُله زمونږ د بدن یوه اهمه حِصَّه ده، د دې په ذرریعه مونږه خوراک څښاک کوو، د قرآنِ مجید د تلاوت سعادت پرې حاصلوو، نعت و مَنقَبَت پرې وائیو. اَلْحَمْدُلِلّٰه د اَودَس په دوران کښې وینځلو او غړغړے کولو سره خُله پاکه او صفا اوسي او د ډېرو بیمارو نه حفاظت هُم اوشي.

## د خُلې وینځلو او غړغړو کولو طِبّي فائدے

د هوا په ذریعه بیشمیره مُهلِک جراثیم او د خوراک اجزا په خُله او غاښونو پورې د لاړو سره اُونښلي. که په اَودَاسه کښې د مِسواك او خُلې وینځلو په ذریعه د خُلې بهترینه صفائي اونکړے شي نو خطرناک مرضونه پیدا کیدے شي: که روژه نه وي نو د خُلې وینځلو سره سره [په اوداسه کښې] غړغړے کول هُم سُنَّت دي او پابندئ سره غړغړے کولو والا د ټانسلو [د مرو د غُوټو] د غټیدلو او په مرو کښې د موجودو ټانسلو د انفیکشن او د مرئ د ډېرو مرضونو نه تر دې چې د مرئ د کینسر نه په حفاظت کښې اوسي.

# پوزه کښې د اوبو اچولو طِبِّي فائدے

د اَودَاسه په دوران کښې په پوزه کښې اوبه اچول طِبِّي لحاظ سره ډېر فائده مند دي او دا عمل د ډېرو بيمارو نه د محفوظه اوسيدلو باعِث دے. د دائمي نزلے او د پوزې د زخم د مريضانو د پاره د پوزې غُسل (يعني د اَودَاسه په شان په پوزه کښې اوبه خيژول) بے حده فائده مند دي او د ”هائيډرو پيتهي“ يعني د اوبو په ذريعه د علاج د ماهرينو په نزد په پوزه کښې اوبه اچول بصارت (يعني نظر) تيزوي.

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! عام طور بعضې خلق د مخ د ښائست او تر و تازګي زياتولو د پاره او د مخ د دانو نه خلاصي حاصلو د پاره په مخ باندې مختلفې ټوټکے او نُسخے استعمالوي او مصنوعي طور مخ ځلولو د پاره ګران ګران کريمونه لګوي. ياد ساتئ چې ټوټکے او نُسخے استعمالو او ګران ګران کريمونه لګولو سره مخ وقتي طور خو اوځليږي خو روسته د دې په وجه په مخ ګونجې، دانے او عجيبه عجيبه داغونه راښکاره شي چې هغه د سخت تکليف باعِث جوړيږي او د هغې په سبب مخ د ښائسته کيدلو په ځائے انتهائي بد شکله شي. د مخ د ښائست زياتولو او تر و تازه ساتلو د پاره اَودَس يوه بهترينه نُسخه ده، ځکه چې په اَودَاسه کښې درې ځله مخ وينځلے کيږي، د دې په سبب د مخ په ښائست کښې اِضافه کيږي بلکه د دې په بَرَکت نورې ډيرې طِبِّي فائدے هُم حاصليږي چنانچه

## د مخ وينځلو طِبّي فائدے

د اَودَاسه په دوران کښې په مخ باندې درې ځله لاسونه راښکلو سره دماغو ته سکون حاصلیږي او ورسره ورسره په مخ کښې چمک او په خرمن کښې نرمي او نزاکت پیدا کیږي ، خاورې او دُوړې ترینه لرې شي او مخ صفا، ښکلے او رُعب دار شي او سترګو ته ورسره طاقت ملاویږي، سترګې ورسره ښکلې او خُمارې شي. یو یُورپي ډاکټر مقاله لیکلې وه چې د هغې نوم وو "آئي واټر هیلته (Eye Water Health) په هغې کښې هغه په دې خبره زور ورکړے دے چې "خپلې سترګې په ورځ کښې ډیر ځله وینځئ ګنې په خطرناکو بیمارو کښې به اخته شئ.

دے شوقِ تلاوت دے ذوقِ عبادت　　　رهوں باوضو میں سدا یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۰۲)

## اَودَس او هائي بلډ پریشر

د زړونو یو سپیشلسټ په ډیر اعتماد سره وائي: د هائي بلډ پریشر مریض باندې اَودَس اوکړئ بیا ئې بلډ پریشر چیک کړئ ضررور به کم وي. د یو مسلمان ماهرِ نَفسِیات وَینا ده: "**د نفسیاتي مرضونو بهترین علاج اَودَس دے.**" مغربي ماهرین، نَفسِیاتي مریضانو ته د اوداسه په شان هره ورځ ډیر ځله په بدن باندې د اوبو اچولو [او لګولو] وائي. (اَودَس او سائنس ص ۳)

# اَودَس او فالِج

په اَودَاسه کښې چې ترتيب وار انداموته وينځلے کيږي دا هُم د حِکمت نه خالي نه دي. اَوَّل په اوبو کښې لاس وهلو سره د بدن اَعصابي نظام خبرداره شي او بيا په قلاره قلاره د مخ او دماغو رګونو ته د دې اثرات رسي. په اَودَاسه کښې مخکښې د لاسو وينځلو بيا د خُلې وينځلو بيا په پوزه کښې اوبه اچولو بيا د مخ او نورو اندامونو ترتيب د فالِج د مخ نِيوي د پاره فائده مند دي. که د مخ وينځلو او **مَسْح** کولو نه شروع اوکړے شي نو بدن په ډيرو بيمارو کښې اخته کيدے شي. (اَودَس او سائنس ص ۳)

# په کور کښې اَودَس خانه جوړه کړئ

**نن** صبا په بيسن [يعني د لاس وينځلو په ځائے] کښې په ولاړه ولاړه د اَودَس کولو رواج دے او دا د **مُسْتَحَب** خلاف دي. افسوس! خلق د سهولتونو نه ډکې غټې غټې بنګلے خو جوړوي خو په هغې کښې د اَودَسونو [جُدا] ځائے نه جوړوي. د سُنَّتو درد لرونکو اسلامي ورونړو په خدمت کښې مدني عرض دے چې که کيدے شي نو په خپل کور کښې کم از کم د يوے ټوټې اَودَس خانه ضرور جوړه کړئ. .په دې کښې دا احتياط ضرور ساتئ چې د ټوټې داره سِيده په فرش باندې د لګيدو په ځائے په زوَرِې [يعني ښوَيندہ ځائے باندې] لګې که نه وي نو د غاښونو نه د وينې وغيره راتلو په صورت کښې به په بدن او جامو باندې د څاڅکو

لګيدلو مسئَله جوړيږي. که تاسو محتاطه اَودَس خانه جوړول غواړئ نو د هم دې رِسالے شاته ورکړې شوي نقشے نه مدد واخلئ.

په ډبليو سی (W.C) کښې په اوبو باندې د استنجا کولو سره عام طور د دواړو ښپو ګِيټو [پړکو] طرف ته څاڅکي کيږي لِهٰذا د فراغت نه پس احتياطاً د ښپو دا حصّے وينځل پکار دي.

## د اَودَس خانے جوړولو طريقه

د کور د يو نل **اَودَس خانے** ټول پيمائِش يعني اوګږدوالے دوه نيم څلويښت اِنچې او پلن والے ئې پاؤ کم پنځوس اِنچې اوچت والے د زمکې نه پاؤ کم څوارلس اِنچې، په هغې د پاسه ووه نيمې انچې نور د ناستې سِيټ د هغې عرض (يعني پلن والے) دوه نيم ديرش اِنچې او اوږدوالے د يو سر نه واخله د بل سره پورې يعني د پوړئ په شان، د دې ناستې د سِيټ او د مخامخ ديوال د مينځ فاصله 25 اِنچ، مخې طرف ته داسې چړن [زوَرے] (Slope) جوړ کړئ چې نالئ د ووه نيم اِنچه نه زياته اَرته نه وي، د ښپو ايښودو د ځائے د ښپو د اوګدوالي نه معمولي زيات مثلاً چه ټول پاؤ باندې يوولس انچې وي، د ټول ځائے مخې ته حصه څلور نيمې انچې زِيګ اوساتئ چې په هغې باندې خِيرے لرې کولو د پاره ښپې مرلے شي (خاص طور په يخنئ کښې). د L (ايل) يا U (يُو) په شان "مِکسچرنَل" [يعني ټوټيئ] د نالئ د زمکې نه 32 انچې پاس اولګوئ، د دې ترکيب داسې جوړ کړئ چې د اوبو داره په ښوينده ځائے (يعني Slope) باندې پريوځي او

ستاسو د پاره به د غاښونو د وينې وغيره نجاست نه بچ کيدل اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ آسان شي. د معمولي تبديلئ سره په ځماتونو کښې هُم په دې ترکيب سره اَودَس خانے جوړيدے شي.

**نوټ:** که چرې ټائلونه لګوئ نو په ښوَينده ځائے باندې سپين ټائلونه اولګوئ چې که چرې د مسواك کولو سره د غاښونو نه وينه راشي نو چې په لاړو وغيره کښې ښکاري.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیك او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائسته ښار کښې کيدونکي د **دعوتِ إسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے الٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني إنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي.**" إِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. إِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com